


خپل وطن ته د بېرته تګ په اړه فکر کوي؟
مونږ درسره په خپله خوښه بېرته تللو کې
کومک کولی شو.فیدازیل ستا د بېرته تګ
سفر تنظیموي او مصارف یې کوي. او په
شریکه مونږ ګورو چې ستا خپل وطن کې
څنګه تاسره مرسته کولی شو.

**0800 32 745 (free number)**
**www.voluntaryreturn.be**

fedasil
FEDERAL AGENCY FOR THE RECEPTION OF ASYLUM SEEKERS

Co-funded by the European Union

1

## د خپلې خوښې راستنيدنه څه ته وايي؟

دا ستاسې خپل اصلي هيواد ته ستنيدلو ته وايي، او دا يوازې تاسې ياست چې د ببرته تګ تصميم نيسی. د راستنيدنې سفر لکه د عادي مسافرينو د سفر په شان دی، چارواکي ستاسي د رسيدلو څخه مخکې نه خبريږي او تاسي آزاد ياست چی هر وخت وغواړئ د راستنيدنې د تصميم څخه لاس په سر شئ.

2

## څنګه کولای شم د خپلې خوښې راستنيدنې پروګرام ته درخواست ورکړم؟

تاسي کولای شئ په بلجيم کې د تماس د نکتو څخه د يوې سره اړيکه ونيسی، د خپل سوسيال ( اسيستانت) او يا همکار سره د موضوع په اړه وغږيږئ، او يا هم د مفت تيلفون ۰۸۰۰۳۲۷۴۵ شميرې سره اړيکه ونيسئ.

3

## څوک به زما راستنيدنه تنظيم کړي؟

فيدازيل د خپلې خوښې راستنيدنې د پروګرام د همغږي کولو مسؤوليت په غاړه لري. د IOM ( د کډوالی نړيواله اداره ) راستنيدنه د الوتکې د لارې او يا هم د بالکان هيوادونو ته د بس د لارې تنظيموي. د راستنيدنې څخه وروسته د مرستو مسؤوليت د IOM او lCaritas Internationa په غاړه دی.

4


## آيا زه بايد پيسې ورکړم؟


نه، تاسي اړ نه ياست چې پيسې ورکړئ. فدازيل د الوتکې يا د بس د ټيکټ ټول لګښت ورکوي او همدا راز تر هوائی ډګر او يا د بس تمځای پوری ترانسپورتي لګښتونه هم په غاړه اخلي. تاسي بايد خپل د سفر اسناد د قونسلګرۍ څخه واخلئ او کله چې تاسي ټللی نو د سفري اسنادو لګښت به بيرته تر لاسه کړئ.

5

## څومره سامان/وزن کولی شم له ځان سره يوسم؟

تاسي بايد د هوايي شرکت يا د بس د کمپنی دمحدوديتونو سره ځان عيار کړئ.له هغه شمير بکسونو څخه چې يو کس ته يې اجازه ورکړل شوی او يا هم د وزن کوم اعظم حد چی ټاکل شوی وي، تر هغې زياتی ونکړئ نو لهذا تاسې بايد خپل ځان محدود وساتئ.





6

## آيا په سفر کی به راسره څوک مل وي؟

هو، د بلجيم څخه د تګ پر وخت به د IOM څخه يو نفر په هوايي ډګر کې ستاسې هرکلی کوي، د الوتکې ټيکټ به درکوي او ځينې مرسته به درسره کوې، او تاسې سره به تر سرحدی چک نقطی پورې ملتيا کوي. که تاسي غواړئ، خپل هيواد ته د رسيدلو سره سم به يو بل نفر ستاسې د هرکلي لپاره په هوايي ډګر کې ولاړ وي. ددی لپاره چې تاسي وپيژندل شئ، تاسي نه به وغوښتل شی چی د سفر پر مهال د IOM يوه پلاستيکي کڅوړه له ځان سره ولرئ!

7

## زما په هيواد کې ژوند آسانه نه دی! تاسي ما سره هلته څه ډول مرسته کولی شئ؟

مونږ ستاسي په هيواد کی د ځايي کارکونکو سره کوم چې ستاسي په بيامیشته کيدنه کې مرسته کوی، کار کوو.د بيا ميشته کيدنې مرسته شايد تاسې سره د يو کاروبار د پيلولو، د روغتيايي لګښتونو د ورکولو او يا هم د دندې د پيدا کولو د لارې ترسره شي. دا مرستې هر چا ته نه ورکول کيږي، ځکه چې هر کيس/دوسيه د بل څخه جلا ده نو تاسې بايد د خپل مسؤول کس څخه پوښتنه وکړئ ترڅو وپوهيږی کوم ډول مرسته تاسي تر لاسه کولای شئ؟ همداراز د راستنيدنې مرسته (نغدي مرسته) د تګ پر مهال هر چا ته ورکول کيږي.

*This brochure is intended for foreigners without a residence permit in Belgium. It is available in 18 languages: Albanian, Amharic, Arabic, Bulgarian, Chinese, Dutch, English, Farsi, French, Lingala, Mongolian, Pashto, Portuguese, Fula, Russian, Serbian, Slovak, Spanish and Tigrinya. You can download the different language versions on www.retourvolontaire.be/fr/partners.*

# CONTACT US.

www.voluntaryreturn.be/contact-us



fedasil

FEDERAL AGENCY FOR THE
RECEPTION OF ASYLUM SEEKERS